دانټرنیټ دفارسی منابعو څخه
ژباړونکی : عزیزاحمد خوارمل

# امریکایي نظامی ځواکونه دافغانستان دخلکو پرضد په روانه جګړی کي دټیټی درجی (کمزوره ) یورانیومو څخه یي کار اخیستی دی !

دافغانستان په جګړه ځپلوسیموکښي ډېر شمیر کوچینیان معیوب اوناقص الاعضازیږیدلی دی ،اودیوشمیر ګزارشونوپربنسټ چي امریکایی نظامی ځواکونه په جګړه کي دافغانستان ددولت دمخالفینوپروړاندی دټیټی درجی یا کمزوره یورانیومو څخه یي کاراخیستی دی چي دیرغلګرونظامیانوددی کړنی له کبله په جګړه ځپلوسیموکښي د زیات شمیر کوچینیانودتن غړی په نورمال ډول ندی معیوب اوناقص الاعضازیږیدلی دی اودغه مهمه پیښه یي دافغانستان دولت اوس ترڅیړنی لاندی نیولی دی .



د راډیو اکتیویف په تشعشعاتو سره اخته سوی افغان ماشوم

دافغانستان دروغتیا دوزارت مرستیال اعلان وکړ،سربیره پردی چي امریکایی نظامی ځواکونه وایی چي په جګړی کي ددولت دمخالفینوپروړاندی یي دټیټی درجی یا کمزوره یورانیموڅخه کار نه دی اخیستی ،مګر یوی منبعی چي دی یي نوم نه اخلی ده ته یي ویلی دی چي په جګړه کي ددی موادوڅخه کار اخسیتل سوی دی .
دافغانستان ددولت دغه چارواکی وویل ،دولت پریکړه کړی دی چی ایا امریکائیانوپردی هیواد باندی دخپل یرغل په وخت کي دغیروسلوالواوعادی اوسیدونکو پرضد ددی موادوڅخه یي کار اخیستی دی اوکه نه ؟ ددغومعیوبو اوناقص الاعضاو زیږیدلی کمکیانواوکوچینیانومسئله یي اوس تر څیړینی لاندی نیولی دی ،دولتی چارواکی په نظر کي لری چي دجګړه ځپلوسیمودخارو،دډبرواوداوبو نمونی اودنوروموادوڅخه دنتیجی دترلاسه کولواوددی مسئلی دښه تره ثبوت دپاره ډول ډول موادیي راټوله کړی اوهمدا اوس ترمطالعی اوڅیړنی لاندی دی .

## دټیټی درجی (کمزوره)یورانیوم څه ډول مواد دی ؟

دتیټی درجي (کمزوره سوی ) یورانیوم یا Depleted Uranium چې لنډ اومخفف نوم يې DU دی چي دطبیعی یورانیوم دبډای کولوڅخه د هستوی عکس العملونو په کاروړلوسره ،لاسته راځی . طبیعی یورانیوم درادیواکتیف دکښتی درجي اوکمزوره خواص په درلودلوسره یوکمیاوی فلز دی چي په ډېرلږمقدارسره په غرونو،سمندرونو،لوی اواوړه سیندونوکښې پیداکیږی ،دغه ډول یورانیوم د دووایزوتوبه څخه دU235 او U238 په سلوکښې۰/۷ او په سلوکښې ۹۹/۳ جوړه وی ددغودووایزوتوبونوڅخه لمړی ډول یې U235 دهستوی عکس العلونودرامنځته کولو اودانرژی دلاس ته راوړلو دپاره ځینی کار اخیستل کیږی په همدی ډول دغنی سوی طبیعی یورانیوم څخه په واقعیت کې دایزوتوب U235 په ذریعی سره دU235 د ایزوتوپ دلوړی برخی دجلاکیدلوڅخه U238 دی چي دغه جلاسوی برخه د U238دتیټی درجي یا(کمزوره) یورانیومو یا دDU په نوم پیژندل کیږی دDU دراډیواکتیف دتشعشعاتو میزان اوبرابروالی دطبیعی یورانیوم په سلوکښي (۷۰) دی چي په سیمه اومحیط کښې شته دی اودDU نیمه عمر تقریباً څلورنیم میلیارده کلنوپوری دی په همدی ډول ددغه کمیاوی فلزڅخه دغه جوړسوی مواد ډېر اوږد عمر لری .

## دتیټی درجي (کمزوره )یورانیومو داغیزمن کار اخیستنی لنډ تاریخ :

دلمړی ځل دپاره دغه مواد دصحرا دطوفان(دبیدیا دطوفان ) په نظامی عملیاتوکي کار ورنه اخیستل سوی دی چي دامریکا نظامی ځواکونه دعراقی د نظامی ځواکونوپرضدیې دهغوګولیوڅخه کار واخیست چي یورانیوم په کښې کې کارول سوی وه ،چي ډېره برخه ددغه ګولیونه د(A۱۰) اي لس ښکاری الوتکوپه وسیله چي دتاندبولت په نوم یادیږی دعراقی ځواکونودټانکونواوزهریې وسایطوپرضدوکارول سول اوسمدستی دعراق په لویدیزه سیمه کښې دغیر نظامی اوسیدونکو اودعراق دنظامی ځواکونوپه منځ کې دلاعلاجه ناروغیودرامنځته کیدوباعث وګرځیدی چي تردا اوسه پوری په سیمه کښې ډېرکمکیان معلول اومعیوبه زیږی اوددی ګولیوداستعمال اوکاراخیستنی نه دسرطان خطرناکه ناروغي ادامه لری . دتیټی درجي یورانیوم اویا کمزوره سوی یورانیوم که څه هم دتیټی درجي یا کمزوره (ضعیف ) نوم پرځان باندی لری اولکه اتومی بم عمل نه کوی مګر ډېره موده دمځکی پرمخ پاتیدونکی دی اوډېر اوږد عمر لری اوترډېروکلنوپوری مځکه اوطبیعی منابع اوزریمی هم دخپلوتشعشعاتوپه وسیله ککړ کوی اوپه وابنوکښې دژنیتیکی جهشونودرامنځته کیدوسبب ګرځی کوم چي انسانان دهغوی څخه کار اخلی ،اورامنځته سوی ګازونه اوغازات ددی ډول یورانیوم څخه ډېر سمی دی هوااوباد يې کولی سی چي ددی ګازاتو شعاع دلس ګونی کیلومترووپه واټن سره لیر ی ځایونوته يې خپاره کړی اوله دی سببه ډېرخلک ورسره مبتلا اوککړیږي کړی .

تیټی درجي (کمزوره ) یورانیوم دامریکا دنظامی ځواکونولخوااودیو شمیر اروپایی هیوادونو لخوا دافغانستان په جګړه کي ددی وژنکی کیمیاوی موادوڅخه هم کار اخیستل

**سوی دی چې دغه ډول وسلی دټولیزووژنودوسلواومهماتودجملی څخه کڼل کیږی ،چې استعمال اوکارونه یې دنړیوالوقوانینواونورمو نونه سرغړونه اونقضیدل دی چې هیڅکله دی هم دانسانانودمنځه وړلودپاره داډول وسلی ونه کارول سی اوخلاف دټولوانسانی اووګړنی نورمواوپرنسپونه څخه کڼل کیږی اوددی وسلی څخه په جګړه کې کار اخیستل دنړیوالی پریکړواوفیصلومخالف کار دی اووددغه ډول وسلی استعمال اوکارونه منع قرار ورکول سویدی ،همدرانګه ددغووسلوسره اړیکی نیول دډاکترانودثبوت او لړلیدونوپربنسټ دډېروخطرناکوناروغیوخصوصآ دسرطان دناروغی درامنځته کیدوسبب ګرځی . اوپه دی اړه دانګلیستان دسلطنتی نظام یوه کمیټه په یوی طبی ګزارش کې ددی ډول ناروغی درامنځته کیدوپه هکله دامریکا ددولت اودیوشمیر اروپایی هیوادونو څخه یې توضیحات غوښتی دی چې دغه ډول وسلی په صربستان ،افغانستان اوعراق کې په کومه اندازه اوڅونی شمیر سره استعمال سوی دی ،دوی غوښتنه کړی دی چې شمیر دی مشخص سی . په همدی ډول سره وویل سو چې په (۱۹۹۰) میلادی کال دصحرا(دبیدیا) دطوفان په عملیاتوکې دامریکی تر قوماندی لاندی نظامی ځواکونه دټیټی درجی (کمزوره ) یورانیوم څخه کار اخیستی دی ،په دی جګړه کې تر دری سوه (۳۰۰) ټنه پوری ددی وژونکی وسلیواومهماتو څخه پرعراقی ځواکونواودعراق پرعادی اوسیدونکوباندی استعمال سول .اوپه (۲۰۰۳) میلادی کال کې شمیر یې د(۱۲۰۰څخه تر۲۲۰۰) ټنوته ورسیدل چې تر اوسه پوری په نړی کې نه دی استعمال سوی ،اوهمدارنګه په (۱۹۹۹) میلادی کال کې دناټودنظامی ځواکونولخواپرصربستان باندی (۱۰) لس ټنه دټیټی درجی (کمزوره) یورانیوموڅخه کار اخیستل سوی ووچې ددی وسلو ډېره برخه یې په کوزووکې وکارول سول .** مګر په ډېر تاسف سره ددغو رښتینوګزارشونو پربنسټ چې ددغه وژونکی وسلی داستعمال اوکاراخیستنی په هکله خپاره سویدی دانسانی حقونونړیوال سازمان اونور وګړنی اوټولیز وسازمانونه یې ډېر په تشویش کړی دی ،بیا په دی هکله دامریکا دولت اونظامی ځواکونه ټینګار کوی چې دغه ډول وسلی دټولیزووسلوپه ډله کې نه شمیر کیږی اونه راځې اوامریکائیان ادعاکوی څه چې ډاکټران وایې ددی وسلودتاوان اوضرررسولوپه هکله چې پراوسیدونکواوسیمیه باندی تاثیر ښندی اودچاپیریال دککړتیا سبب ګرځی اوډول ډول ناروغی رامنځته کوی ،دامریکا دولت اونظامی ځواکونه یې نه منی اودوی وایی چې دا ډول وسلی په لاس کی نلری چې دغسی مسئلی دی رامنځته کړی .
هغه څه چې په دی هکله راڅرګنده سویدی هم دانن په عراق اوافغانستان کې داهسی ډېر خلک سته دی چې ددغو وژنکووسلو درادیواکیفی تشعشعاتو سره مخامخ سوی دی او همدا اوس دسرطان په ناروغی سره اخته دی .

دعراق دورځپاڼولیکوونکودانټرنیټی سایت دیوی ګزارش پربنسټ ،دنوی زیږیدلی معیوبیو اوناقص الاعضاکوچینیانواوکمکیانو دشمیر په هکله چې لیکی یې دی :ددی هیوادپه لویدیز ه سمیه کښې په پراخه توګه ددا ډول معیوبیواوناقص الاعضاکمکیانواوکوچینیانوپیښی مخ پر ډېریدو دی .

ددی ګزارش پربنسټ ،په دی سیمه کښې دسرطان ناروغی هم له دی کبله ډېر پرمخ تللی دی اودسیمی ډېر خلک په دی ناروغی سره اخته سویدی ،دغه پیښی په داهسی وخت کې رامنځته کیږی چې دا هیواد همدا اوس دښکیلاکګرونظامی ځواکونوتر واک لاندی دی اوخپلواکه ندی اودعراق مرکزی دولت ددی واک اوتوان نلری چې دکارول سوی اوغورځول سوی بمبونواوګولیو پارچې اوټوټې را غونډ اوراټول یې کړی ځکه همدا اوس هم ډېر اوسیدونکی ددغه ناچاودلی بمونو اوپرځای پاته بمی ګولیوښکار ګرځی چې دجګړی په وخت کې یوشمیر یې نه دی چاودلی اوس دچاودنی له کبله عادی اوسیدونکی اوولسی خلک وژل کیږی اوډېر وکړی ددی وژنکی وسلی دراډیواکتیفی تشعشعاتوسره مخا مخ کیږی .

په عراق کې جنایتونه،او امریکایی سربازانوته بډی ورکول دهستوی ناروغیودپېټولو په اړه !

دبشری حقونویوتکړه پلوی دامریکا هیواد اونړیوال ائتلافی ځواکونه یې په دی تورن کړ ،سره له دی چې دټیټی درجی (کمزوره ) یورانیوموپرکارونی اواستعمال باندی نړیوال بندیز لګول سویدی مګردعراق هیوادیې دامریکا دهستوی وسلو دځټلیو ځای اومرکز وباله اودعراق په جګړه کې یې د امریکایي ځواکونو دهستوی وسلو څخه دکارولو اوکار اخیستنی دغه کاریې دانسانانوپرضد یو سترجنایت وبلل .**د ټیټی درجی (کمزوره سوی ) یورانیوم یا Depleted Uranium چې لنډ اومخفف نوم یې DU دی دطبیعی یورانیوم دبډای کولوڅخه چې د هستوی عکس العملونو په کاروړلوسره رامنځته کیږی،لاسته راځی .** چې د**U238** دټیټی درجې یا(کمزوره) یورانیومو یا د**DU** په نوم پیژندل کیږی د**DU** دراډیواکتیف دتشعشعاتو میزان اوبرابروالی دطبیعی یورانیوم په سلوکښې (٧٠) دی چې په سیمه اومحیط کښې شته دی اود**DU** نیمه عمر تقریباَ څلورنیم میلیارده کلنوپوری دی په همدی ډول ددغه کمیاوی فلزڅخه دغه جوړسوی مواد ډېر اوږد عمر لری .

دټیټی درجی یا کمزوره یورانیوم درادیواکتفی تشعشعاتو دوز (٦٠- په سلوکښې ) (٢٣٨)طبیعی اواصلی یورانیوم دی


.

**د راډیو اکتیویف په تشعشعات سره اخته سوی عراقی ماشوم**

**ددی هستوی راډیو اکتیویفی موادو استعمالیدل دانسانانوپر روغتیا،جوړوالی اوسلامتیا باندی ژوراغیزه ښندی اوددرانده فلزاتولکه د ارسنیک دزهرجن سمی ګازپه پرتله لړدرلودنکی دی اوداوږدعمر له کبله دتیتی درجی یا کمزوره یوارانیومودغه موضوع هغه یې خطرناکه راڅرګنده کړی دی .**

**همدارنګه ددی راډیو اکتیویف دتشعشعاتوڅخه دسرطانی ناروغیودخیرنی په هکله روغتیایي متخصیصینو اوپوهانو دایي ثابته کړی اوڅرګنده کړی دی چی دخلیج په سیمه کښي دزیږیدلی** معیوبیواوناقص الاعضاکوچینیانواوکمکیانو دغه مهمه مسئله دتیتی درجی یا کمزوره یورانیوم د**استعمالیدلو اود کاراخیستنی له کبله بولی چې** دامریکایی نظامی ځواک**ونو لخوا په (١٩٩١) میلادی کال کې دجګړ ی په وخت کې ددی وژنکو وسلوڅخه کار اخیستل سوی دی .**

**ځیرنو وښودل اوڅرګنده کړی دی چی دغه ډول مواد پرعصبی جوړښت ،پرژنیتیکی سیستم اوډژوندی موجوداتو دزیږیدوپر سیستم باندی چې دځان په شان موجودات زیږه وی ډیره اغیزه لری :**


دبشری حقونودډلواوپلویانواوهمدارنګ دسولی دفعالینو دځیرنوڅخه څرګندیږی چې دامریکا هیواددعراق په جګړه کې دهستوی راډیواکتیفی وسلوڅخه دعراق دبی ګناه اوسیدونکو پرضد کار اخیستی دی چی همدا اوس دراکیتونواونورولوی او واړه (صقیله اوخفیفه ) امریکایی یورانیوم لرونکی وسلیو داستعمال اوکار اخیستنی له کبله دعراق هیوادانسانانودژوندکولودپاره غیرصحی دی اودعراق دهیواد دژوندکولوسیمی یې دلوی خطرسره مخامخ کړی دی .

"الینور عمانی" دامریکی دبشری حقونواودسولی یوه تکړه پلوی په بربنډ ه توګه وایی :دعراق په جګړی کې دتیتی درجی (کمزوره ) یورانیومواستعمالیدل اودغه څخه کار اخیستنه یې دانسنانواوګړوضد یوجنایت سرلیک کړی ،اوپه دی هکله یې وویل : په ډیر تاسف سره دپنتاګون (دامریکا ددفاع دوزارت) دفشار له کبله دملګروملتونوسازمان هم ددغووژونکو هستوی وسلو دتشعشعاتوپه هکله چې دامریکایی ځواکونولخوا په عراق کې استعمال سول تردا اوسه پټه خوله دی اودامهمه مسئله یې پټ ساتلی اونه دی اعلان کړی ،مګریوشمیر په اروپاکي دجګړی ضد دسولی غورځنګونه اویوشمیر نوری ډلی په ملګروملتونوکښي دپینتاګون درواغ یې په ثبوت ورسول .

عمانی دیوشمیر مستندو مدراکو اوشواهیدوپربنسټ چې دامریکایی ځواکونوپه جګړیزووسلوکښي دتیتی درجی یا کمزوره یورانیومو څخه چې دجګړی په وخت کې دعراقی ځواکونوپر ضد کارول سویدی په دی هکله یې وویل :دامریکایی راکیتونو،بمبونواووسلو څخه لاس ته راغلی راډیواکتیف په عراق کې دخلکودنه لیدلو اودسترګودنه لیدودکمزورتیا سبب ګرځیدلی اودعراق دهیواد دژوندکولوسیمی یې دلوی خطرسره مخامخ کړیدی او همدارنګه په عراق دم ګړی امریکایی میشته ځواکونه هم له دی کبله دلوی ګواښ اوخطری سره مخامخ دي .

نوموړی  په دی هکله وایی : امریکایی سربازان کله چې بیرته خپل هیوادته ستونیږی دوي ډېر سخت ناروغه دی ما په خپله شخصا ددووسربازانوسره ولیدل کوم چې دوی دعراق  څخه راغلی وه  اودبشری حقونواودسولی دډلیوغړیتوب هم درلودل ، دنږدی نه می ددوي سره ولیدل .

دغه دامریکا دسولی تکړه پلوی ددغودووسربازانودزیاراوتلاش په هکله چې دیورانیومی وسلواودراډیو اکتیف دتشعشعاتوله کبله زیانمن سوی اودوي په  خپله ددغه ناروغی دتاوان  په اړه دامریکا نظامی چارواکوته وایی :پنتاګون په لمړی ځل ددی ناروغه سربازانودناروغی مسئله یې ونه منل اوپنتاګون وایی چې دغه ناروغی دیورانیومی موادو داستعمال   څخه نه دی رامنځته سوی ، اودغه ناروغی په نوروعواملوپوری ور تړی اودیورانیوم مسئله یې بی ځایه خبره وباله ..



په عراق کې دټیټی درجی یا کمزوره یورانیومو څخه کار اخیستل انسانی اووکړنی ضد یوستر جنایت  اوناورین دی اوددغه کارول سوی راډیواکتفی وسلو اغیزه ترمیلیاردونوکلونوپوری به په دغوسیموکښې  پاته وی اوخپل منفی تاثیرات بنیندی اوژوندی موجودات به هیڅکله په دی ونه توانیږی چې په دی سیموکښې دی ژوند وکړی :

ددی ګزارش لیکوونکی زیاتوی : ددی سربازان دزیار اوتلاش  په نتیجه کښې چې د(۲۰۰۰) د دووزروډالرپه بیعه یې خپلې وینی یې دیوی جرمنی ماشین په وسیله چې جوړه ونکی المان دی اوپه امریکی کې نسته  وازمول اوتست  یې کړی اودوینو په نوموړی ټست کې وښودل سو چې ددی سربازانوپه وینه کښې دیورانیومی دراډیواکتیف تشعشعاتو شته دی .

میرمن عمانی دامریکا دځواکونودجګیوړوچاروکود زیار اوهاندپه هکله وایی : چارواکي ډېره هڅه وکړل تر څوددغو سربازانو په وینوکښې دیورانیوم دپیداکولوموضوع پټ وساتی اوپه دی هکله وایی: پنتاګون دغه ناروغه سربازانوته دډېروپیسو(ډالرو) په وعده ورکولو پردوی ومنل چې دخپل ناروغی په اړه دی دامریکی ددفاع دوزارت پرضد دی شکایتونه  نه کوی او دعراق دجګړی په هکله دی دریښتینو پیښواوواقعیتونوڅخه دی مخ نیوی وکړی .دغی امریکایی اوسیدونکی دایران دمهر دورځپانی سره په یوی مصاحبی کښې وویله : چې هربرت رید یو ددغه زړه ورو سربازانوله جملی څخه دی چې

دپنتاګون دغه وعدی ،پیسی اوډالر یې و نه منل اوداوس مهال زموږ سره دملګروملیتونودسازمان استازی دنړیوالی ګډو

ځواکونو دیورانیومی وسلیو،یا د(ICBUW)دخپریدواودکارونی دمخنیوی دکمیسون غړی د ی اوزموږتر څنګ پرانسانانوباندی دظلمونواوتیری پرضدیوځای مبارزه کوی اوددی مسئلی پرضد جنګیږی ،اودغه ناروغه سرباز دخپل ځان اودخپلودوستانو په هکله وایی : زموږ موخی دا دی ترڅونړیوال راویښ کړواودامریکا اودعراق خلک په دی ناورین باندی خبر اوپوه کړو چې دامریکا دځواکونو ددغه ډول وسلیو داستعمال اوکارونی خطر دامریکا بچیان اودعراق بی ګناه اوسیدونکی یې دستر ی غمیزی سره مخا مخ او دعراق سیمه یې دراډیواکتیف په تشعشعاتوسره ککړکړی دی .

عمانی وایی : دیوشمیر نړیوال کنفرانسونو پرانستل اوهمدارنګه دامریکا په ښوونځیواوپه پوهنتونوکښې په دی اړه دزده کړی پرګرامونه اوپه دی باب دلکچرونو ورکول زموږ دکار یوبرخه جوړه وی .

الینور عمانی څرګندوی ،دیورانیوم راډیواکتیفی تشعشعات اودغه ډول وسلی یې ډیروژنکی وباله اوپه دی هکله یې وویله : دعراق دهیواد په ډیره برخه کې به تر ملیاردونوکلنوپوری ژوندی موجودات په دی ونه توانیږی چې په دغوسیمو کښې ژوند ترسره کړی اودغه وژنکی راډیواکتفی تشعشعات په هوا،اوبواودخوړوپه موادوکښې اودعراقیانودژوندکولوپه ټوله سیموکښې شته دی اوتردا اوسه پوری زرګونی عراقی بی ګناه اوسیدونکی په دی موضوع باندی نا پوه اوناخبره دی چې په دی ډول سره ،امریکایی سربازانو ژوند یې ددوی څخه اخیتسی او دوی یې وژلی دی .

**ګارډین دامریکا دیوی نوی وژنکی وسلی دجوړه ونی نه یې پرده پورته کړ !**

**یوی انګلیسی ورځپانی ګارډین د ددوه زره اتم کال داوومی میاشیتی پرشپاړسمه نیټه ۱۶/۷/۲۰۰۸ددی موضوع په هکله یې ولیکل: دامریکا ددفاع وزارت زیار باسی اوپه نظرکې لری ترڅونوی نسل وژنکی نظامی وسلی دچاودیدونکی ګولیودجوړه لوپه وسیله بیله ږغ اوږوغه څخه دانسانی نسل دله منځه وړلودپاره جوړاورامنځته کړی .**



**"ګاردین" انګلیسي ورځپانی په خپل یوی ګزارش کې دیو ډول مختله تللی اومډرن چاودیدونکی ګولی په اړه یې ولیکل چې دټولونړیوالوقوانینوخلاف دامریکا نظامی ځواکونه دغه ډول ګولی یې جوړ کړی دی چې دغه ډول وسله کولی سی چې بیله کوم ښکاره تاوانه څخه انسانان دمنځه یوسی اوهیڅ کوم بله نخښه اونښانی ځینی پرځای پاته نسی .**

**دغه ورځپاڼې خپل دګزارش په لمړیوکرښو کې لیکلي چې دغه وسلې چاودیونکی ګولی دصحرایی (دبیدیایی) دتوب دګولی سره ډېر ورته والی لری اودبیولوژیکی وسلیودمخنیوی اونه جوړه لودقوانینوپرخلاف جوړسویدی اودامریکا نظامی ځواکونه دهغه سازمانونو دګوتنونی په هکله چې ددی ډول وسلې دجوړه ولوسره کلک مخالف دی په دی اړه دغه وسله یې دلږ ویجاړیوونکی اولږ تاوان لرونکی وسلې په توګه یې ښودلې اوځرګنده کړی دی .**
**داپه داهسی حال کې دی چې دګاړدین ورځپاڼې په دغه ګزارش ددی ډول وسلې دخصوصیاتواودخانګړتیاپه بیانول سره لیکی دغه وسله یې دهغووسلیودډلې څخه ګڼل دی چې پرانسانانوباندی ډېره بده بیولوژیکی اغیزه اوتاثیرات به رامنځته کړی اوکولای سي چې تردېروکلنوپوری ویجاړه ونکی منفی اغیزی پرانسانی نسلونوباندی رامنځته شی .**
**دغه ورځپاڼې په اشاری سره ددی کلمی "ایکس ام ۱۰۱۶"په اړه دطنزپه ډول لیکی : "ایکس ام ۱۰۱٦" څه شی دی ؟ ایا دغه کلیمه دیوډول بم نوم دی یا دموز وپوستکی ته ویل کیږی ، اویا دا چې دغه کلیمه ویوی خطرناکه سفرته وایی ؟» .**
**ددغه ګزارش لیکوونکی لیکی اوزیاته وی یې : «ډېر مشکل دی پوه سو چې دغه کلیمه وکوم شی ته ویل کیږی مګر ډېر ښه به وی چې پوه سو "ایکس ام ۱۰۱۶" دیوډول وسلې پټ اورمزی نوم دامریکا ویوډول وسلې ته ویل کیږی چې کولای سی بیله ږغ اوړوغه اودآرامتیا په فضا کې بیله کوم ښکاره ویجاړی اوتاوانه څخه خلک ،انسنان اوژوندی موجودات دمنځه یوسی اوپه سیمه کښې دسل (۱۰۰)مترومربع په پراختیا سره ټوله عراده جات اودحرکت وسایل ،موټراوګاړی دکاره څخه وغورځوی ».**
**لیکوونکی ددی لیکنی په ادامه سره ددی ویلوپه استینادسره لیکی :« هغه څه چې ډېر مهم دی هغه دا دی، ایای ددی ډول وسلې جوړه ول دکیماوی وسلودمخنیوی دمعاهداتو خلاف دی که نه ؟ ایا دا چې دغه وسله یوه نوی رامنځته سوی وسله په نظامی چاروکښې د لږوویجاړی او ورانیوپه رامنځته کیدوسره دنوروسلیوپه څنګ کې یوه وسله شمیر کیږی؟**
**په دی ګزارش کې ددی وسلې پرنوردېروجزیاتوباندی اشاره سویدی همدارنګه لیکوونکی لیکلی :دهغه لاسته رارسیدلی اطلاعاتوپربنسټ ددی وسلې دکار اخیستنی اوپه کارولوسره چې څه ډول تاثیر او اغیزه پرراتلونکی نسلونوباندی ښندی اوانسانی ناورین رامنځته کوی په دی اړه وایی،لیکونکی په دی ګزارش کې په ټینګار سره لیکی لا تر اوسه پوری ددی وسلې دکار اخیستنی څخه اطلاعات اوګزارشونه نه دی ترلاسه سوی اما پوهیږی چې دغه ډول وسلې لکه دکیماوی بمونو اووسلیوپه شان دی اوکولای سی چې ډېر شمیر انسانان له منځه یوسی اودځان څخه هیڅ ډول نخښه اونښانی پرځای پری نږدی .**
لیکوونکی په دی هکله توضیح کوی :«لا تر اوسه دا ډول وسله په رسمی توګه ندی معرفی سوی اوډېرښه به وی چې پوه سو چې ددی چاودیدونکی ګولی کارونه دامریکا دهغوطبقه بندی سوی نظامی اسرارو جزقرار نیولی دی که څنګه » .

ليکوونکی ددی ګزارش په پای کی په اشاری سره ددی ډول وسلی دځانګړتيا اومشخصاتوله کبله نتيجه ترلاسه کوی اووايی چې دامريکاهيواد دهغه ادعا پربنسټ دټولونړيوالوقوانينواو نړيوالونورمونوخلاف بيله کوم ځنډه زيار باسی تر حوهغه ډول وسلی تر لاسه کړی اوپه جګړيوکښې ټسټ، استعمال اوکار ځينی واخلی چې دبشری اوانسانی نسلونودپاره ډيره خطرناکه اوويجاړه ونکی وي .

**هستوی اسناد دنړی په توربازارکښې پلوريدل کيږی**

**دبډای سوبيورانيوم دجوړه ولواودرامنځته کولودراکړی ورکړی دستورالعملونه داټومی اوهستوی جګړه ايزو بمونواسنادپه توربازارکښې په يوعادی کړنه اوامر بدل سوی دی .**




دانګليس دګارډين ورځپانی په دا وروستيوکښې ديوی ګزرارش په خپره ولو سره ديو شمير اسنادونواونښه اونښانيوڅخه پرده پورته کړ،چې ګواګی داهسی آوازی شته دی چې په نړی والو توربازا کښې دهستوی وسلو اسنادونه اودستورالعملونه په اسانی سره دراکړی ورکړی په ډول په آزاده توګه سره ترلاسه کيږی اوپه دی هکله ويل کيږی چې دسويس هيواد په پټه سره په دی اړه يې زرګونی دا ډول ځيرنيز سندونه يې له منځه وړی دی ./

01082008

www.ayenda.org

.